سمیع الدین افغاني

٢٠١٤/١٠/٢٦

# هوښيار طبيب

مينه ګرانه ده خوږې لري ترخې هم — د هجران هم د خوښيو خاطرې هم

ده کيسه د يوې پيغلې د يو ځوان — يو جالبه عجيبه غوندې داستان

ښکلی ځوان يوې نجلۍ باندې مين وه — شپه او ورځ د پيغلې مينه کې غمجن وه

پيغلې هم په دغه ځوان وه زړه بايللی — دوئ په مينه خبر نه وه کور او کلی

د دوئ مينه وه د حده ځينې زياته — د زړو راز يې معلوم نه وه وبل چا ته

مده ډيره او وختونه په دوئ تير شول — دوئ په لارکې له هر خوا خنډونه ډير شول

زوريدل د کور او کلي له دستوره — پټه مينه يې ساتله له مجبوره

*****

پس له ډيره انتظار او کړاونو — کورنی يې شول خبر لدې رازونو

ددوئ دواړو کورنی سره جرګه شول — د نجلۍ، هلک نجات ته وسيله شول

د هلک او نجلی سؤال رب ته قبول شو — پوه تدبير د کورنيو يې اصول شو

پس له ډيرو زحمتونو د زمان — شول کامياب لدې ازمون نه په ښه شان

مده پس د دوئ ښادي شوله بنا — د پاک رب درته منظور يې شوه دوعا

ډير وختونه دوئ خوشاله په وصلت وه — ښه روزګار او ښه ژوندون يې غنيمت وه

*****

مده پس عجب حالت دوئ کې پيدا شو — د دوئ مينې، محبت کې خنډ پيدا شو

دا نجلۍ د خپلې خواښې نه شاکي شوه — ډيره سخته د دوئ مينځ کې دښمني شوه

ناوې فکر کې د خواښې د قصو شوه — د هغې د مرګ په عزم ارادو شوه

اختلاف ددوئ بې حد بې اندازې شو — چې حاجت نه د خبرو او ګيلې شو

ناوې لاړه کوم طبيب ته ډير هوښيار — ويل: چې خواښې مړه کوم غواړمه زهر

داسې زهر چې يې مړه کړي هغه دم — چې يې خلاصه شمه زه يې نور له غم

طبيب ويل: چې زه ډيرښه زهر لرمه — دغه زهر تاته هرګز نه درکومه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که دا مړه شي طبيبان ترينه خبريږي    دا قضيه په ما او تا بيا تماميږي

ښه به داوي چې زه درکړم داسي زهر    چې د شپږ مياشتو مده کې وکړي کار

نه به څوک په تا خبر شي نه په ما    بس همدغه زما تاته ده سلا

*****

ناوې پوه شوه په خبره د طبيب    ويلي: ښه ده چې پوه نه شي کوم قريب

طبيب ورکړ يو بوتل پدې عنوان    دغه زهردي کوم چې ما کړلو بيان

هره ورځ به د بوتل يو څو قطرې    ته د خواښې په خوراک کې اچوې

شرط يې دادي چې په مينه او اخلاص    ښه غذا به جوړوې ته په خپل لاس

ښه سلوک او ښه رفتار درته په کار دی    پس له شپږ مياشتو ضرور تاثير دزهردي

******

ښځې واخيسته بوتل لاړله کور ته    چې دا زهر به ورکوي دهلک مور ته

شپه او ورځ په احترام او په عزت شوه    د خپل خواښې په ستاينې او صفت شوه

ښه خوراک او طعامونه به تياروه    دا د خواښې او دناوې ښه روزګاروه

مده پس دوئ سره ښه شول يو تر بله    خواښې، ناوې يو دبل خبر منله

په هر ځاي کې احترام يو بل ستايل وه    نور نو نه کومه دعوا نه کوم رټل وه

دغه ناوې خپلې خواښې نه راضي شوه    همنشينه د خپل خواښې صميمي شوه

تردې حده پښمانه د خپل کړو شوه    په تکل يې د ژوندی پاته کيدو شوه

ويلي: څه دا بې ګنا به ختمومه
په قيامت به خداى ته څه ځواب کومه

******

دوباره لاړه طبيب ته همزمان    ويل: ښنه درنه غواړم مهربان

دغه زهر دي نيمايي درسره واخله    پښيمانه يم بدى نوم راته ماخله

اوس دارو درځيني غواړم چې دوا شي    چې مې خواښې ها زهرات بيرته خنثى شي

اوس زما ورسره جوړه ده خوښى ده    زما خواښې ماته ژوند کې خوشالي ده

درواري شم اى طبيبه لاس په کار شه    زما خواښې د نجات ته مددګار شه

******


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

طبيب وويل: چي زما مقصد همدا وو | ستا فرصت د پيښماني مـي مدعا وو
---|---
په بوتل کې بل څه نه وه تش اوبه وې | هغه وخت ته د شيطان سره هم زړه وې
خوابښي مورستا د خاوند او هم دستا ده | زمـوږ دين کـي د انسان وژل خطا ده
کور کي وغواړه مافي د مـور او زويه | خداي بـه وبښي هـم تـا هغو له رويه
د هوښار طبيب نسخه په داسي کار کي | ښکلي راز وه د انسان د خير په لار کي

******

ناوې زړه نه ولوی خدای ته په توبو شوه
خپل خاوند او هغه مور ته په عذر و شوه

ويـل: ښنـه درنـه غـواړم ګناه ګـار يـم
خپل په کړو او حسادت زه شرم سار يم

خوابښـي، ناوې هغه دم غاړه غړی شوې
وې خوشاله چي نور خلاص له تربګنی شوې

ښه سلوک باندې هميش بـاور په کار دې
نيک رفتار دهرچا دوست د لارې ياردې

*****

سميع الدين افغاني
٢٦ - ١٠ - ٢٠١٤


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ